شیرمحمد اميني ستانکزی ۲۰۱۷/۰۹/۰۱

# د ناوړو دودونو؛ رواجول، ستونزې او ګواښونه

ناوړه دودونه هغه ناسم او غلط دودونه دي، چي د ټولني د پرمختګ لاملونه ورته ويلای نشو، بلکي د ولسونو د تباهۍ زيږنده يي بولو.
ناسم رواجونه د خلکو په اقتصادي، ټولنيز او عقدوي افکارو منفي اغيزه کوي او د ولسونه د شاته پاتي کيدو سبب کيږي، ځکه دا هغه څه دي، چي د يو لړ ناوړو رقابتونو، بې ځايه ترګينيتونو او يو لړ بې ځايه کينو له مخي را ولاړيږي.

د هيواد په ولايتونو کي ډيري داسي ناوړه دودونه شته، چي ولس اړ دی، هغه دود لکه چي يادونه وشوه پر ځان يي تطبيق کړي. که د اسلام له نظره فکر وکړو، چي دا ناوړه دودونه په اسلام کي ناروا عمل ښودل شوی، نو بيا ولي دغه ناوړه فرهنګ په ټولنه کي رواجوو.

اِسراف او بې ځايه لګښتونه اسلام په ډاګه ناروا عمل ښودلی دی، چي بايد په اسلامي ټولنه کي دا عمل پلي نشي او نبايد ديرديو د خولي پيغور په ځان ومانه.

د ناوړه دودونو منفي اثرات په ټولنه کي، افغاني اصيل فرهنګ چي مورته له پخوا د اسلام په رڼا کي د خپلو نيکونو او پلرونو څخه را پاتي دی، هغه دودونه له مينځه ولاړ نشي او ځای يي د نورو هيوادونو فرهنګ ونه نيسي.
بل داچي افغان ولس د اقتصادي ننګونو سره مخ دي، د هغوی پر اقتصادي وضعي باندي هم اثر کوي، ځکه په ودونو کي بې ځايه لګښتونه، د زيات ولور ټاکنه البته ويلی شو، چي ولور په اسلام کي شتون نلري او هغه مهر ده؛ چي شريعت ورته ځانګړې اندازه ټاکلي ده؛ نو ولور بې ځايه دود او ناوړه عمل دی.

بل زيان چي د نادرستو او ناوړو کارونو په ترسره کولو د يوې کورنۍ ډيري پيسي بې ځايه لګول کيږي، نو هغه داچي د يوې کورنۍ کس به په کلونو کلونو مسافري ځانته غوره کوي او يا څه ناڅه ځمکه چي ولري، هغه به ګيرو او يا خرڅولوته اړ کيږي، نو دا هغه څه دي، چي د يوچا ژوند به د اقتصاد له پلوه ګواښي، چي بايد د دې غيرې اسلامي او غيرافغاني کړنو څخه ډډه وشي.

خپل اصيل افغاني فرهنګ ته وده ورکول په دې مانا نه دی، چي په هماغه زاړه فرهنګ موږ ژوند وکړو، ځکه د ټولني د پرمختګ يواځيني تکامل په فرهنګ پورې تړلي، که فرهنګ غښتلي نه کړو، ټولنه به ورستي پاتي وي او که فرهنګ ته وده ورکړل شي، نو ټولنه هم د پرمختګ لوري ته مخه کوي.

خو دا فرهنګ په معيار ولاړ، د اسلامي قواعدو تر سيورې لاندې او د هيواد په قوانينو برابر دود او د ټولني په ولسونوتطبيق کړل شي، نه دا چي د بهرنيو هيوادونو د فرهنګ تر اغيزې لاندې او يا هره ټولنه له ځانه ناوړه او نادرست فرهنګ د رواجولو تيره کيږدي.

رسنۍ تر ټولو مهمه مرجع ده، چي د فرهنګ په شتمنتيا کي رغنده مسؤليت لري، چي د هيواد پالني په وړاندې خپل ايماني او وجداني وجيبه په سمه توګه اداء کړي.

خو اوس هغه رسنۍ چي بهرني سريالونوخپره وي او د هيواد په کچه د افغاني اصيل فرهنګ په وړاندې د پرديو دودونو وايروسونه خپاره کړي، که چيرته مخنيوی ونشي، نو کيدای شي، چي افغاني فرهنګ له پښو وغورزه وي او ځای يي د پرديو هيوادونو فرهنګ ونيسي.

د دې لپاره حکومتي اړونده اداره لاس تر زني دې نه کيني او په جديت او قاطعيت سره په وړاندې عملي ګامونه واخلي، ترڅو په هيواد کي د غلطو او د بهرنيو فرهنګ مخنيوی وشي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

نوبیا هغه وخت اړین نه بریښي، چې اوبه سر وکړي او یوم ورپسي واخیستل شي. د ناوړو دودونو په وړاندې مبارزه یوازې د دولت دنده نه بولو، بلکې ولسونه دې هم په دې لار کې همغږي وي او د نادرستو کړنو لپاره قاطع پریکړې له ځانه ولري.

ولسي جرګه چې د ملت کور بلل کیږي، نو دوی هم په دې برخه کې مسؤل واوسي، د ولایتونو په کچه چې ناوړه رواجونه موجودې دي، وکیلان دې د خلکو څخه په دې اړه معلومات ترلاسه او د ناوړو دودونو لست دې جوړ کړي، چې څنګه دغو ناوړه اوبې ځایه دودونو ته د پای ټکی کیښودل شي  او د حل لارې ورته وټاکي.

دې لپاره  ولسي جرګه په یوې طرحې دې کار وکړي، چې د پارلمان د کمیسیونونو په چوکاټ کې د ناوړو دودونو یوځانګړې کمیسیون جوړ او په عملي ډول  کار پیل کړي، چې ولسونه نور د تباهی له کندې وژغورل او د پرمختګ لاره ځان ته غوره کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ